**د نړیوالې ساتنې په پروسه کې حقوقي مشوره**

هغه وګړي، چې د نړیوالې ساتنې لپاره یې غوښتنلیک ورکړی وي او قضیه یې د بهرنیو او پناه غوښتونکو په فدرال اداره (BFA) کې روانه وي، له ۲۰۲۶/۶/۱۲ نېټې څخه د نړیوالې پناه غوښتنې په پروسه کې د حقوقي مشورې د ترلاسه کولو حق لري.

په دې حقوقي مشورې کې نوموړي پناه غوښتونکي د پروسې د بهیر او همدارنګه د خپلو حقونو او مکلفیتونو په اړه مالومات ترلاسه کوي. د پناه غوښتنې پروسې ته د لاسرسي په برخه کې د هغوی ملاتړ کېږي، تر څو وکړای شي باخبره پرېکړې وکړي او د خپلې همکارۍ مکلفیتونه پر وخت ترسره کړي.

دا حقوقي مشوره د اروپايي ټولنې د پناه غوښتنې د ادارې (EUAA) د لارښود پر بنسټ ده. په دې حقوقي مشوره کې عمومي مالومات په ساده ژبه په ډله ییزو غونډو کې وړاندې کېږي او ورسره د لنډو انفرادي خبرو اترو امکان هم شته.

د دې لپاره چې له دې حقوقي مالوماتو ګټه ورپاخیستل شي، د غوښتنلیک یوه فورمه (۲۰۲۶/۶/۱۲ څخه) www.asyluminaustria.at باید ډکه شي او د بهرنیانو او پناه غوښتونکو فدرال ادارې ته واستول شي.

https://citizen.bmi.gv.at/at.gv.bmi.fnsbfaweb-p/bfa/public/Rechtsauskunft

هغه وګړي، چې حقوقي مالوماتو ته غوښتنلیک استوي او د هدف ډلې برخه وي، د (BBU GmbH) د دفتر لخوا به ورسره اړیکه ونیول شي او د ملاقات وخت ته رابلل کېږي.

د پناه غوښتنې د پروسې او ورسره د حقونو او مکلفیتونو په اړه حقوقي مالومات په لومړي سر کې په ډله ییزه بڼه ورکول کېږي. د اړتیا په وخت کې د لنډو انفرادي خبرو امکان هم شته دی.

دا ملاقاتونه د ژباړې په مرسته ترسره کېږي.

**د حقوقي سلامشورې منځپانګه:**

- د هغو پروسو په اړه مالومات، چې پر بنسټ یې پناه غوښتنه ارزول کېږي
  - د نړیوالې ساتنې پروسه
  - د هغې پروسې په اړه مالومات چې له مخې یې د پناه غوښتنې د قضیې مسئول هېواد ټاکل کېږي
  - د سرحد پروسه
- د پناه غوښتنې نه وروسته پروسې د مرحلو په اړه مالومات
- د هرې پروسې د حقونو او مکلفیتونو په اړه مالومات
- د ځانګړو اړتیاوو لرونکو کسانو لپاره د پروسې د تضمینونو په اړه مالومات (لکه بې سرپرسته ماشومان، د شکنجې قربانیان، د انساني قاچاق قربانیان)
- د عمر د تثبیت په اړه مالومات او د بې سرپرسته کم عمره کسانو لپاره تضمینونه
- د راټولو شویو مالوماتو او بایومېټریک ځانګړنو په اړه مالومات
- د کورنۍ د غړو د استوګنې د ځای د اهمیت په اړه مالومات
- د شخصي مرکې د شرایطو، بهیر او حدودو په اړه مالومات
- د هغو څرګندونو/ثبوتونو/اسنادو په اړه مالومات چې ګټور ثابتېدای شي
- د همکارۍ د مکلفیتونو د نه مراعت په حال کې د ممکنو پایلو په اړه مالومات
- د حقوقي لارو (شکایت/اعتراض) د امکاناتو تشریح او د حقوقي بهیر په ترڅ کې د پاتې کېدو د حق په اړه مالومات

- د شکایت په بهیر کې د وړیا حقوقي مشورې او استازیتوب د حق په اړه مالومات

د حقوقي سلامشورې غوښتنه کېدای شي سمدلاسه د نړیوالې ساتنې د غوښتنلیک نه وروسته وشي او یا هم هر وخت د (BFA) د بهیر په ترڅ کې ترسره شي.